# دتوری غږ

زه پر چا د توری غږ کړم چي غلیم وریتي په اور کړي
د خوشحال بابا تبر یوه موتبی پخپل کور کړي
له آمو تر اتیکه دا ویده اولس را ویښ کړي
لرو برو افغانان د غلیم پر ضد په شور کړي
بیا ملالی کړم له کومه چي کړي غږ پر میوند یا نو
چې سنګرد انګریزان وران و یجاړ د مټ په زور کړي
یا غازی میر مسجدی چي چپاو پر دښمن وکړي
یا «اکبر» چی مکناټن په رڼا ورځ ښخ په ګور کړي
یا « امان» چي په عیدګاه کي د ازادی آواز کړي پورته
یا «نجیب» چي د پنجاب د لښکر مخونه تور کړي
هغه ورځ ډیر لیری نه دي چي افغان یو موټی نشي
دهغه ورځ په انتظار«مل» چی افغان پخلاخپل ورور کړي
****

پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل»
جرمنی «21-11-2020»